# لنډیز

د افغانستان د ۲۰۱۴ کال د ولسمشري او ولایتي شوراګانو ټاکنو د هېواد د دوامدار ډیموکراتیک لېږد په بهیر کې ستره ننګونه پېداګه کړه. دغه ټاکنې د طالبانو له راپرزېدو څخه وروسته پنځمې ټاکنې بلل کېدې او د لومړي ځل لپاره د یوه قانوني چوکاټ لاندې تنظیم شوې وې چې د ولسمشر د فرمان پر ځای د یوه ډیموکراتیک قانوني بهیر له لیارې رامنځ ته شوې وې. د واک د شفاف او سوله ییز لېږد په پام کې نیولو سره، افغانانو او نړېوالې ټولنې دواړو دغه تاکنو ته او د افغانستان په سیاسي تاریخ کې د یوه مهم هدف او فرصت په صفت کتل څو د ولسواکې په لور ترلاسه شوې بریاوې وساتل شي.

ډاکټر اشرف غني د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۲۹د یو ټاکنیز بهیر څخه وروسته چې له شپږ میاشتو څخه یې زیات دوام وموند، او د هېواد د ولسمشریزو ټاکنو دویمه دوره او د رای بکسونو د تاریخي او بی ساري پلټنې بهیر پکې شامل وو، د افغانستان د راتلونکي ولسمشر په صفت اعلان شو. یوه لنډه موده ورسته و لسمشر غني د لوړې د مراسمو په ترڅ کې ډاکټر عبدالله عبدالله- د دویمې دورې ولسمشریز ټاکنو دویم مخکښ- د افغانستان د اجرائیه رئیس په صفت اعلان کړ، چې دغه څوکی د دواړو نوماندانو لخوا د دویمې دورې د ټاکنو د پایلو په ترڅ کې د ملي یووالی د حکومت تر موافقې لاندې رامنځ ته شوه. د ولایتي شوراګانو د ټاکنو پایلې د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د وروستي تائید څخه وروسته د اکټوبر په ۲۶ اعلان ش0وې.

ډي-آی د امریکا د پراختیایي ادارې په مالي مرستې سره د همکاری د یوه تفاهم لیک له لیارې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د ټاکنو د نړېوالې څارنې ماموریت تنظیم کړ. د ډیموکراسي نړېوالې ادارې خپل د ټاکنو د نړېوالې څارنې دنده د ۲۰۱۴ کال په فبرورې کې پیل کړه او د ټاکنیز بهیر ټول پړاونه لکه د لومړي پړاو ټاکنې چې د اپرېل په ۵ نیول شوې وې، د دویم پړاو ولسمشري ټاکنې چې د جون په ۱۴ ونیول شوې، او د رایو پراخه پلټنه یې وڅارل.

## ټاکنو څخه وړاندې شرایط

ډي-آی د بلخ، هرات، ننګرهار، او پنجشیر ولایتونو کې د اوږدمهالې څارنې دوه کسیزې ډلې وګومارلې څو د ټاکنو څخه وړاندې شرایط وارزوي او د ټاکنو له ورځ څخه څارنه وکړي. د امنیتي ملحوظاتو له امله د اوږد مهالې څارنې ډلې د ټاکنو څخه څو ورځې وړاندې د مارچ په ۳۱ نېټه کابل ته راغلې څو د لومړي پړاو د ټاکنو پاتې ماموریت سره یو ځای شي.

له ټاکنو څخه وړاندې دوره د ټاکنیز کمپاین د فعالیت د شدت او پراخوالي له پلوه، د ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو د نوماندانو او د هغوی د ټیمونو د اړونده رسنیز پوښښ له پلوه د پام وړ دوره وه. په ټاکنو کې ښکېل ډېر کسان چې د خلکو د لیوالتیا له امله یې د یو مطلق شمېر نوماندانو لپاره (چې د ولسمشري او ولایتي شوراګانو دواړو په موخه مبارزه کوي)، د یوه نوي ولسمشر د ټاکلو په هیله، او پدې هیله چې ټاکنې به واقعاً رقابتي وي، په پراخو کمپاینونو کې برخه اخیستې وه. ډېرو افغانانو د ۲۰۱۴ کال ټاکنو ته د یوه ملي لومړیتوب په توګه کتل، چې له امله یې د بېلابېلو سیمو د مدني ټولنې سازمانونو د مدني روزنې او عامه پوهاوي په موخه خپلې سیمه ییزې اړیکې وکارولې.

د افغان امنیتي ځواکونو، چې د ټاکنو لپاره سرتاسری امنیت ټینګ کړ، له زیات فشار لاندې وو څو د دغه مهم سیاسي لېږد لپاره خوندي چاپېریال رامنځ ته کړي. ناوړه امنیتي شرایطو د ټاکنو د بهیر د تنظیم په برخه کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون وړتیاوې ، په ټاکنیزو

کمپاینونو کې د نوماندانو ورتیاوې، د رایي ورکولو په برخه کې د خلکو ورتیاوې، او د ټاکنیز بهیر د اعتباري کولو په برخه کې د څارونکو ورتیاوې ټکنۍ کړې. لکه څنګه چې په دغې ټاکنیزه دوره کې ولیدل شول، دغه کار د ټاکنو د مدیریت او پایلو په اړه د مشروع او له سیاسي پلوه تنظیم شوي شک دواړو لپاره فرصتونه برابر کړل.

## د لومړي پړاو ټاکنې

د ټاکنو لومړی پړاو د اپریل په پنځمه یو پراخ بریالیتوب وګڼل شو. د رایه ورکولو ډېرو زیاتو مرکزونو څخه د ډي-آی څارونکو لیدنه وکړه، هغوی د ټاکنو د بهیر لپاره د رایي ورکولو د مرکزونو د پرانسیتنې، رایي ورکولو، بندولو، او شمېرلو د پروسیجرونو څخه نظارت او څارنه وکړه. ډي-آی یوازې یو څو سرغړونې ولیدلې او د هغوی په باور دغه سرغړونې نشي کولای چې په هغو مرکزونو کې د رایي ورکوونې ټول بهیر تر پوښتنې لاندې راولي. په سر کې داسې برېښېده چې د ټاکنو ورځ نسبتاً ارامه او سوله ییزه ده؛ په کابل کې سترې پېښې رامنځ ته نشوې او له ولایتونو څخه یوازې یو څو راپورونه راورسېدل. د ټاکنو څخه یوه ورځ وروسته، په ولسوالیو کې د رامنځ ته شویو پېښو راپورونو وښودل چې د پام وړ تاوتریخوالی موجود وو. ډي-آی د تېرو ټاکنو په پرتله د کورني څارونکو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی یادداښت کړ.

زمونږ د ټیمونو د مشاهداتو او نظریاتو په بنسټ چې د ټاکنو څخه وروسته پړاو کې د رایي شمېرنې په ملي مرکزونو کې ګومارل شوي وو، ډي-آی باور لري چې د رایي شمېرنې د بهیر منل او مدیریت د ټاکنو خپلواک کمیسیون د طرزالعملونو سره سم په شفافیت سره تر سره شوی وو. سربېره پدې، لاس وهل شوي کڅوړې او د هغوی د پایلو اړونده پاڼې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ثبت او راجستر د بهیر په ترڅ کې کشف شوې وې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د طرزالعمل سره سم تنظیم شوې.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د اپریل په ۱۳ د ولسمشري د لومړي پړاو ټاکنود قسمي پایلو اعلانول پیل کړل چې په منظمه توګه یې دوام وموند تر هغو چې بشپړې پایلې اعلان شي. لومړنی بشپړې پایلې د اپرېل په ۲۶ اعلان شوې، او وروستی پایلې د مې په ۱۵ اعلان شوې. وروستی پایلو وښودې چې عبدالله عبدالله ۴۵ سلنه رایې ګټلې دي، اشرف غني د په سلو کې د ۳۱,۵ رایو په ګټلو سره په دویم مقام کې، او زلمی رسول د ۱۱,۳۷ سلنه رایو په درلودو سره په دریم مقام کې راغلل. له دې امله چې هېڅ یو نوماند اکثریت رایې ونه ګټلې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دویم ځل ټاکنې په لاره واچولې چې عبدالله او غني د ولسمشري لپاره یکځ سره سیالي وکړه.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لومړنی قسمي پایلې د مې په ۲۰ اعلان کړې، خو وروستی پایلې د اکتوبر تر ۲۶ پورې اعلان نشوې(پنځه میاشتې وروسته). د ولایتي شوراګانو ټاکنیزو شکایتونو ته رسېدنه د ولسمشري د دویم ځل ټاکنو په اړه د اختلافاتو له امله توپیر درلود، او، پدې توګه د وروستی پایلو اعلان یې وځنډوو، چې د ولایت او هېواد په کچه یې د دولت د دوام او فعالیت په برخه کې ستونزې رامنځ ته کړې.

## د دویم پړاو ټاکنې

د دویم پړاو ټاکنو د کمپاین دوره ډېره فعاله وه. د دوه مخکښ نوماندانو د ټکټونو د اختلاف سربېره، دغه کمپاین یوه داسې زمینه برابره کړه چې له امله یې د لومړي پړاو مخکښ نوماندان د قومونو تر منځ، د کورنی دننه، او د سیمه ییزو سیاسي مشرانو لخوا د منلو وړ وګرځېدل. که څه هم چې د کورنیو تر منځ د سیاسي اړیکو اختلافات په ډیموکراتیکو ټولنو کې معمول دي، خو د ورته کورني د افرادو لخوا د سیالو نوماندانو تائید په افغانستان کې یوه نوې پېښه ده.

ډي-آي خپل د اوږمهالي څارني ټيمونه بلخ، هرات، کابل، او پنجشېر کې مېشته کړل. د يو څو استثناوو سره، د ډي-آی څارونکو وليدل چې ټاکنې د رايو د مرکزونو د پرانيستلو او تړلو، او د رايو د شمېرلو په شمول د تشريح شوي طرزالعمل سره سمې تر سره تنظيم شوي دي. د رايه ورکوونکو د ګڼه ګوڼې په اړه ضد او نقيص راپور ورکول کېږد، ډېر څارونکي وايي چې د خلکو ګډون د اپريل د ۵ نېټې په توپير لږ ښکاريده چې په ډېره پيمانه د رايه ورکوونکو د صفونو د اوږدوالي د ارزونې په اساس ارزول شوی وو. د ډي-آی نړېوال څارونکي هم وايي چې دغه ورځ د لومړي پړاو د ټاکنو په توپير ډېره کمرنګه برېښېده. د ټاکنو څخه وروسته د رايه ورکوونکو سمدستي رسمي شمېرنې د خلکو ګډون د لومړي پړاو په توپير زيات وښود. دغه توپير د اختلاف په يوې سرچېنې بدل شو، او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون ته د رسمي شکايتونو يو داسې بنسټ جوړ شو چې د ټولو رايو د بشپړې پلټنې لامل وګرځېد.

د انفرادي خلکو او د نوماندانو د کمپاينونو د شکايتونو په بنسټ، د ټاکنو خپلواک کميسيون دوه دورې نمونوي پلټنې په لاره واچولې. د دويم پړاو ټاکنو لومړنيو پايلو په اساس ډاکټر اشرف غني د ټولو رايو د ۵۶٫۴ سلنه په درلودو سره لومړی ، او ډاکټر عبدالله عبدالله د ۴۳٫۵ سلنه رايو په خپلولو سره دويم، چې د لومړي پړاو په پرتله بدلون په ډاګه کوي.

د دويم پړاو ټاکنې د بشپړېدو څخه لنډه موده وروسته او د ټاکنو خپلواک کميسيون لخوا د رايو د شمېرلو څخه وروسته، د ټاکنو بهير د اختلافونو زېږنده شو. زياتره دغو اختلافونه چې د پراخې درغلۍ او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د بې احتياطۍ په اړه رامنځ ته شوي وو د ډاکټر عبدالله د کمپاين د افرادو څخه يې سرچينه اخيستې وه. د درغلۍ ادعاګانو پراخه لانجه رامنځ ته نکړه. په نتيجه کې، د دويم پړاو ټاکنيزو شکايتونو ته د رسېدنې د بهير په مهال، د ټاکنو په کميسيونو باندې د خلکو اعتماد کم شو تر دې اندازې چې ډاکټر عبدالله او د هغه ملاتړو له ټاکنيز بهير څخه د پرېکړون او د موازي حکومت د جوړولو ګواښ وکړ.

د افغانستان د لومړي سوله ييز سياسي واک د لېږد په هيله، جان کري د امريکا د بهرنيو چارو وزير کابل ته پدې موخه سفر وکړ څو د دواړو نوماندانو تر منځ د دغه بهير د ژغورولو لپاره يوه معامله رامنځ ته کړي. د يو لړ جدي بحثونو څخه وروسته، دواړه نوماندان پدې سلا شول چې د دويم پړاو ټاکنو د رای بکسونو ۱۰۰ سلنه پلټنه وشي چې په پايله کې به يې د ملي يووالي حکومت رامنځ ته شي.

## پلټنه

د ولسمشري نوماندان عبدالله عبدالله او اشرف غني د جولای په ۱۲ پدې سلا شول چې د دويم پړاو ټاکنو د ټولو رايو پلټنه تر سره شي، او دغه سياسي کړکېچ ته د پای ټکی ورکړي. د ټاکنو خپلواک کميسيون د پلټنې اصلي مسئوليت په غاړه واخيست او د ملګرو ملتونو مشورتي نقش غوره کړ. د پلټنې بهير کې د نړېوالو څارونکو او د نوماندانو د استازو شتون ته اړتيا درلوده.

ډي-آی د نړېوالو څارونکو احتياطي ډله وګومارله چې د پلټنې د بهير څارنه وکړي او د نړېوالي څارنې د ټولو فعاليتونو لپاره يې چې امريکا په مرسته تمويل شوي دي، د آسانتيا برابرونکي په صفت کار وکړ. سربېره پدې، ډي-آی د منظمو تخنيکي کميټو په غونډو کې چې د ټاکنو خپلواک کميسيون کې ونيول شوې او د ملګرو ملتونو لخوا يې مشري کېده د هغو ډلو استازيتوب هم وکړ چې د امريکا په مالي مرسته تمويل شوې وې ، او هلته د پلټنې د طرزالعملونو او ننګونو په اړه بحث وشو.

د پلټنې بهير د سپتمبر په ۴ او د سپتمبر په ۲۱ بشپړ شو، او د ټاکنو خپلواک کميسيون ډاکټر اشرف غني د افغانستان د راتلونکي ولسمشر په صفت اعلان کړ او ويې ويل چې رسمي ورستۍ پايلې به نږدې راتلونکې کې اعلان شي. د موافقې د ليکلو له مهال راهيسې، د ټاکنو خپلواک کميسيون لاتر اوسه وروستي رسمي پايلې نه دي اعلان کړې. د دواړو نوماندانو لخوا د پراخې درغلۍ ادعاګانې لاتراوسه ندي ثابتې شوي.

د دواړو نوماندانو تر منځ د ټولو رایو د پلټنې او د ملي يووالي حکومت د جوړولو تړون ښايي د افغانستان لپاره د واک د سوله ییز لېږد لپاره فرصتونه برابر کړي وي، خو دغه کار بیا د یو ولسواکه حکومت د رامنځ ته کولو فرصت پرېښود. پدې توګه دا دریمه پرله پسې ټاکنه ده چې د افغانستان د قانوني ولسواکه چوکاټ له پارامترونو څخه دباندې پرې فیصله کېږي. د پلټنې بهیر د شته طرزالعملونو څخه پرته پیل شو او د ټاکنیزې لانجې د حل لپاره د یوه لنډمهاله میکانیزم د جوړولو غوراوی په ډاګه کړ چې د افغانستان د رامنځ ته شوي اداري او د ټاکنیزو لانجو د حل د اساسي بهیرونو سره په ټکر کې راغی. دا یو له خطره ډک تعامل بلل کېږي او باید د افغانستان د راتلونکو ټاکنو پر مهال ورڅخه مخنیوی او ډډه وشي.

## د ملي يووالي حکومت

د ملي يووالي حکومت د جوړولو مفکوره د لومړي ځل لپاره د جولای په ۱۲ د نوماندانو لخوا د یوه سیاسي چوکاټ د سند له لیارې ومنل شوه، چې د پراخې پلټنې شرایط او په یاد بهیر کې د نوماندانو د ګډون موافقه هم پکې تشریح شوې. د ملي یووالي د حکومت جزئیات د سپټمبر په ۲۰ د انتقالي دولت لپاره د یوه چوکاټ په رامنځ ته کولو سره څرګند شول چې د دواړو نوماندانو لخوا لاسلیک شو. د سپټمبر په ۲۹، غني د ولسمشر په صفت اعلان شو، او په ورته ورځ ډاکټر عبدالله د اجرائیه رئیس په صفت لوړه وکړه چې پدې توګه د ملي یووالي حکومت رسمي بڼه ومونده او په رسمي توګه د ټاکنو دواړه سیالان په ګډه د هېواد د راتلونکې پخاطر مسئول ګڼي.

د ملي یووالي د حکومت د تړون دوه مهم حکمونه دا دي چې د دوه کلونو په دننه کې د اساسي قانون لویه جرګه راوبلل شي څو د اجرائیوي صدراعظم مقام او د اجرائیوي رئیس مقام سمدستي رامنځ ته کړي، چې د هغه دندې او مسئولیتونه ناڅرګنده دي. سربېره پدې، یاد تړون د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د یوه ځانګړي کمیسیون په رامنځ ته کولو باندې تمرکز کوي. د دغه راپور د لیکلو په دوران، دغه راز ځانګړی کمیسیون لاتراوسه نه دی جوړ شوی، سره له دې چې تړون کې ویل شوي دي چې یاد کمیسیون باید سمدستي د ملي یووالي حکومت د رامنځ ته کېدو څخه وروسته جوړ شي.

## وړاندیزونه

افغانستان ته لازمه ده چې د ولسواکۍ د ټینګښت او د قانون په رڼا کې د ډیموکراتیکو ټاکنونو د رامنځ ته کولو لپاره چې په هېواد کې د مشرانو د ټاکلو او د واک د لېږد یوازینی قانوني میتود بلل کېږي، په ټاکنیز بهیر باندې، د ټاکنو پر کمیسیونو یعنې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون باندې د خلکو اعتماد بېرته راژوندی او زیات کړي. له دې امله، مونږ لاندې وړاندیزونه او سپارښتنې وړاندې کوو چې په راتلونکو ټاکنو کې په پام کې ونیول شي:

1. د ټاکنو د پایلو اعلانول.
2. د ټاکنیزو اصلاحاتو د بهیر رامنځ ته کول.
3. د ټاکنیزو درغلیو پلټنه او تعقیب.
4. د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې لپاره د مناسب سیستم رامنځ ته کول.
5. د ټاکنیزو کمیسیونونو اصلاحات.
6. په ټاکنو باندې د خلکو د اعتماد د بیاوړي کولو لپاره د عامه پوهاوي رامنځ ته کول.
7. د دوره یي یا مرحله یي ټاکنو په پام کې نیول.
8. راي پاڼو ته د لاس رسي د درشل اوږدول.

9. د ولايتي شوراګانو او ولسی جرګی لپاره د ټاکنيز سيستم بدلون.
10. د دويم پړاو ولسمشريزو ټاکنو څخه د استفادې ارزونه.
11. د ټاکنو څخه وروسته د رايو د شمېرنې، بيا شمېرنې او پلټنې د طرزالعملونو پياوړتيا.
12. د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کميسيون د شکايتونو د رسېدنې د طرزالعملونو اصلاح

## پای

د افغانستان خلک او نړيواله ټولنه پدې هيله وو چې د ۲۰۱۴ کال ټاکنې به دوه مهمو موخو د عملي کولو لپاره يوه وسيله وي؛ لومړی، دا چې دغه ټاکنې به د طالبانو له راپرزېدو څخه وروسته د واک د سوله ييز لېږد لپاره لاره هواره کړي، او دويم، دا چې دغه بهير به په افغانستان کې د ولسوالکی ټينګښت پياوړی کړي او وروسته بيا د هېواد د ولسوالکی چوکاټ چې يوه لسيزه وړاندې په بن کې منل شوی وو پياوړی کړي. واک په سوله ييزه توګه ولېږدول شو، خو د واک د لېږد بهير د ولسواکی د اصولو سره سم نه وو. سره له دې چې داسې ښکاري چې د ملي يووالي حکومت نن د افغانانو تر منځ محبوبيت لري، خو د افغانانو په رايې سره نه دی رامنځ ته شوی. لکه د تېرو ټاکنو په څېر چې په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کې ونيول شوې، د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو په اړه هم د اساسي قانون د حکمونو، او د ټاکنو د قانون (چې په ۲۰۱۳ کې تصويب شو) او ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کميسيون د قواعدو او مقرراتو پر خلاف د ځانګړو طرزالعملونو له لياري پرېکړه وشوه. پر ځای د دې چې د ټاکنو د پايلو په اړه د ډيموکراتيک بهير له لياري پرېکړه وشي، سياستوالو پرېکړه وکړه چې د پايلو په اړه بايد د يوه سياسي تړون له لياري پرېکړه وشي چې تر نن پورې يې د پايلو له اعلان څخه مخنيوی کړی دی. سربېره پدې، دغه کار يو داسې معيار رامنځ ته کړ په کوم سره چې زورواکي د خلکو رايو ته درناوي پر ځای، خپل واک ساتي.

دغه ټاکنيز بهير د افغانستان لپاره د دې اړتيا مشخصه کړه چې د ټاکنيزو اصلاحاتو او د اساسي قانون اصلاحاتو په موخه يو واقعي بهير په پام کې ونيول شي. سره له دې چې ياد ټاکنيز بهير افغانستان کې د ولسواکی په لور يو مهم او واقعي ګام نه بلل کېږي، خو يوه ربښتيني هيله يې رامنځ ته کړه اوهغه دا چې د پرمختګ امکان شته او د افغانستان ډيموکراتيکه شېبه به ژر تېره شي. په دغه راپور کې د ياد شويو ننګونو سره سره، افغانانو په پراخه پيمانه په ټاکنو کې ګډون وکړ. د افغانانو تر منځ د ولسواکی روحيه ټينګه او غښتلې ده.

هغه ستونزې چې د ۲۰۱۴ کال ټاکنيز بهير يې ټکنی کړ د وړاندوينې وړ وې. د ۲۰۰۴ راهيسې، د کورني او نړيوالو څارونکو وړانديزونه په پراخه پيمانه له پامه غورځول شوي دي، په تېره بيا کله چې هغوی د ټاکنيز سيستم د مهمو مسئلو، د رايه ورکوونکو د نوم ليکنې، او د ټاکنيزو کميسيونونو د خپلواکي او بې پرښتوب په اړه کومه پرېکړه کوي. که څه هم چې، داسې ښکاري چې د افغانستان دولت او تر ټولو مهمه دا چې د افغان دولت مشران د پراخو اصلاحاتو اړتيا احساسوي او د تعقيبولو اراده يې هم لري. که د ملي يووالي حکومت چې د دغه بهير له لياري رامنځ ته شوی خپلې ژمنې عملي کړي او سياسي اصلاحات رامنځ ته کړي، نو په افغانستان کې د ولسواکی په ټينګښت کې مهمه او اصلاحي مرسته کوي. که داسې وشي، دغه بهير او د افغانستان د اوسني دولت رامنځ ته کېدل به د هېواد راتلونکي ثبات کې پراخه ونډه واخلي.